# "د پښتو نثر هنداره" کښې د ډرامه نګارو تذکره

**A commentary on Pashto Drama Writers in the light of "Da Pashto Nasar Hindara"**

ډاکټر زبېر حسرت*

**Abstract:**

da Pukhto Nasar Hindara has brought into light the various Pashto prose genres. The research in this book has added a lot to lead the researchers of the future about these genres. The author of this paper has tried to focus on the part of the book related with Pashto drama. The details of the dramas and drama writers narrated in the book have been further explored and explained. The appreciation of da Pukhto Nasar Hindara has been commented in this article with additions and rectification where ever needed.

"د پښتو نثر هنداره" د پوهاند صدیق الله رښتین علمي، ادبي او تاریخي کتاب دی چې د پښتو نثر پۀ پېژندنه او پېنځو دورونو اړانه دی.

زما موضوع چونکې پۀ دغه نثري او تاریخي تذکره کښې د ډرامه نګارو پورې محدوده ده نو ځکه نور کتاب مې لۀ بحثه خارج دی. د نورو ډېرو اهمو کتابونو مقالو او مضامینو نه پرته رښتین صاحب د خپلې یوې ډرامې "پښتني مېرمنې" ذکر پۀ 28 نمبر 367 مخ کړی دی خو دا یې نۀ دي لیکلي چې دا ډرامه یې چاپ شوې ده یا نۀ او نۀ دا ډرامه زما لۀ نظره د چاپ کتاب پۀ صورت کښې تېره شوې ده.

در اصل زمونږ بحث د مذکوره کتاب د "ځلورمې دورې" (لۀ 1300ھ نه تر اوسه پورې) نه شروع کېږي، ځکه چې پښتو ته ډرامه پۀ شلمه صدۍ کښې د سټېج لۀ لارې د "خدايي خدمتګار تحریک" (1930ء) کښې مخې ته راغلې ده.

---

* Director, Pakhtunkhwa Study Centre, Bacha Khan University Charsada

قاضي رحيم الله:

"همت" او "نوې روشني".ــــ دا دواړه د پښتو ډرامې دي او د خپل وخت غوره ډرامې بللې کېږي. دغه وروستۍ ډرامه په 1958ء کال چاپ شوې ده او يوه ډېره خوږه ډرامه ده.خو د چاپ شوي کتاب تر مخه د قاضي صاحب دغه ډرامه په 1937ء کښې چاپ شوې ده نۀ چې پۀ 1958ء کښې.

د قاضي رحيم الله د "نوې روشني" ډرامه پۀ اول وار 1937ء کښې چاپ شوې وه خو د دوېمې ډرامې "همت" خبر چې رښتين صاحب راکوي نو څۀ مأخذ يې نۀ دی ښئيلی او نۀ يې دا ليکلي دي چې دا ډرامه چاپ ده او کۀ نۀ. زما لۀ نظره کتابي صورت کښې يا کومه مجله کښې پۀ چاپ صورت کښې نۀ ده تېره شوې. البته قاضي صاحب چې د انګرېزانو د پاره کوم د زدکړې کتاب ليکلی دی، پۀ هغې کښې يې د "همت" تذکره پۀ Inner Title Page باندې شوې ده.

قيام الدين خادم:

خادم صاحب پۀ رېښتيا چې د پښتو ژبې خادم او اسم با مسمٰي وۀ. رښتين صاحب يې پۀ ناچاپ اٰثارو کښې د يوې ډرامې پۀ 7 نمبر د "سُور ګل" (ډرامه) پۀ نامه ياده کړې ده"(1) خو د چاپ څۀ ذکر يې نۀ دی کړی چې کله او کوم ځای چاپ شوې ده.

امير حمزه (خان) شينواري:

"امير حمزه پۀ وړومبي ځل پۀ 1941ء کال د "ليلٰي او مجنون" يوه فلمي قيصه پۀ پښتو وليکله چې د رفيق غزنوي لۀ خوا ورځيني فلم جوړ شۀ"(2).

دا د پښتو ژبې وړومبی فلم دی چې پښتانۀ يې د سنېما پۀ پردو کښې پۀ ننداړو نۀ مړېږي. دی د ډرامو پۀ فن کښې پوره لاس لري او ډېرې ډرامې يې د پېښور پۀ راډيو کښې خپرې شوې دي"(3)

ياد دې وي چې د حمزه بابا دغه فلم اوس د پښتونخوا پۀ سنېماګانو کښې نشته. البته د دغه فلم سندرې د پېښور راډيو پۀ زوړ کلېکشن کښې شته. ما "د حمزه بابا فلمي شاعري" نومې مقاله ليکلې او مرکه مردان (حمزه نمبر) کښې چاپ کړې ده چې دغه ټولې سندرې پکښې

موجودې دي. متأسفانه چې رښتين صاحب د دې دومره زود نويس ډرامه نګار د يوې ډرامې نامه هم نۀ ده اخستې. افضل رضا يې خپل تحقيقي کتاب "ډرامه" کښې پۀ 77 مخ د ځينو ريډيايي ډرامو نامې داسې درج کړې دي:

خوشحال خان خټک (1943ء)، خان بهادر صاحب (1945ء)، شرافت (1947ء)، ګمان د ايمان زيان دی، ژرنده ګړې، مامونۍ، توردلی او شهۍ، پروفېسر، طوفان، فتح خان رابيا ،فقير باچا ، کله داسې هم کېږي، ښائستو، د تخت بايې وروستۍ ورځ، محمود غزنوي، وروکې تسبې، ظريف خان، مابۍ، سرکلي، مېمونه، اسيرِ حرص (هوس) ترجمه، د توت ونه، مقابله، نوې دنيا ، نجمه، استاذه، پت، قرباني، قسمت، ازمېښت، ښکلې بلا (ترجمه)، د نارنجو باغ، د سرو ګُته، دوه پښتانۀ، دوه بخيلان، د څوارلسمې سپوږمۍ، سنګِ ميل، موسيٰ بن نضير."*

دغه رنګ چې حمزه بابا د خوښندو د پاره کومې ډرامې ليکلې دي د هغې نامې پۀ ترتيب افضل رضا (پروفېسر) داسې ليکلې دي:

بنګړيواله، نورجهان، رضيه سلطانه، چاند بي بي، د دروغو خوب، امېل"(4).

هم دا شان چې حمزه بابا د اردو نه پښتو ته کومې ډرامې ترجمه کړې دي، د هغې نامې دا دي:

اسيرِ هوس (د آغا حشر کاشميري د اردو ډرامې نه ترجمه)، ښکلې بلا (آغا حشر کاشميري)* پينځم نمبر کمره، شيراز، صلاح الدين ايوبي، عمر فاروق، بغداد بدو"(5).

"ننواتې" تې.وي ډرامه او ايکي يوه سټېج ډرامه "استاذجي" چې پۀ اول ځل 1970ء کښې پۀ اباسين آرټس کونسل پېښور او بيا پۀ شبقدر، پبو او جمرود کښې هم سټېج شوې وه"(6).

---

* وروستو يې د "شرافت" پۀ پلاټ پۀ 1957ء کښې "نوې چپې" نومې ناول هم وليکلو او چاپ يې کړۀ.

* اسيرِ هوس" او "ښکلې بلا" يې وړاندې د طبع زادو ډرامو فهرست کښې هم درج کړې دي.

مـا تـه خپلـه حمـزه بابـا پـهٔ يـو مجلـس کښـې وئيلـي وو چـې مـا ريـډيو لـه "د ډمـانو ښـار" نـومې ډرامـه هـم ليکلـې وه چـې ټـولې مکـالمې يـې پـهٔ سـازونو کښـې وې"(7). ملګـري مصـطفیٰ کمـال د دې ډرامــې نـوم "د ډمــانو کــور" ليکلی دی"(8).

همـېش خليـل صـاحب چـې د حمـزه بابـا د پېښـور نـه د نشـر شـويو کومـو اوويشتو ډرامو فهرست ورکړی دی، نامې يې دا دي:

"ګمــان د ايمــان زيــان دی، پښــتو، د تېلــو ډيــوه، زميـنــدار، د قاتــل خاتمـه، وهمـي، دا دنيـا عجـب بـازار دی، سـکېچ پـهٔ پښـتو کښـې، خـون نـهٔ پټېـږي، داسـې اختـر کېـږي، د اختـر ورځ، دوه دوسـتان، کلپـه روپـۍ، راجـه نـل (ترجمــه)، خــوش بخـت يـا بختـور، خرخشــه، سـوړ اسـوېلی، دوه لارې، غـل بادشـاه، مسـافر، هوښـيار کـم عقـل، مېـره مـور، چـې ريښـتيا راځـي نـو دروغـو بـه کلـي وران کـړي وي، بـې ګنـاه مفـرور، سـخي داسـې وي او ژرنـده ګړی"(9).

سيد رسول رسا:

رښـتين صـاحب خپـل کتـاب کښـې د 345 مـخ نـه 348 مـخ پـورې د سـيد رسـول رسـا تـذکره او پـهٔ نثـر بحثونـه کـړي دي او د هغـوي د کتـابونو نـامې يـې هـم ليکلـې دي خـو د ډرامـه نګـار پـهٔ حېـث يـې د دوی د ډرامـې متعلـق څـهٔ خبـره نـهٔ ده کـړې. حـالانکې پـهٔ 9 نمبـر يـې "رنګـا رنـګ ګلونـه" (1964ء) نــومې کتــاب ليکلــی دی خــو دا يــې ورتــه نــهٔ دي ليکلــي چــې دا ډرامــې، افسـانې او مضـامين دي. دغـه رنـګ د رسـا صـاحب يـو بـل کتـاب "د ژونـد دوزخ" (1973ء) هــم چــاپ دی چــې دوه ډرامــې پکښــې چــاپ شــوې دي او دغــه ټــولې ډرامــې او ډرامــايي ســکېچونه (خــاکې) هغــوي د ريــډيو د پــاره ليکلي وو. افضل رضا (پروفېسر) يې دا ډرامې يادې کړې دي:

نـوې سـوداګري، د سـقراط مـرګ، پيريـان، خوشـحال خـان، سـودايي، ادم خان درخانۍ، غم کده، مريض، ګنګځې، د زهرو پونۍ"(10)

مصطفیٰ کمال د سيد رسول رسا د ډرامه نګارۍ پهٔ حقله ليکلي دي:

"منظومـو اثـارو سـره سـره يـې يـو شـمېر ډرامـې هـم وليکلـې، کـومې چـې د هغــهٔ پــهٔ کتــابونو "رنګــا رنــګ ګلونــه" (چــاپ 1964ء) او "د ژونــد دوزخ"

(چاپ 1973ء) کښې هم موجودې دي. د "رنګا رنګ ګلونه" ډرامې هغهٔ ډېره زمانه وړاندې ليکلې وې چې څهٔ پکښې د ريډيو نه نشر شوې هم وې. د دغه ډرامو او فيچرونو نومونه پهٔ دې ډول دي:

د سقراط مرګ، ادم خان درخانۍ، ګنګخر، پېزوان، غمکده، مريض، ناپرسانه ښار، فساد، نور محمد کاکا، شيخ کاکا، پېريان، د شاعر مرګ (او) مسافر."

دغه شان "د ژوند دوزخ" کښې د رسا صاحب دوه ډرامې "د زمکې اولنۍ جوړې" يعنې د بنيادم د ژوند اغاز" د زمکې اخرينۍ جوړې" يعنې د ژوند انجام چاپ دي"(11).

همېش خليل د رسا صاحب پهٔ "رنګا رنګ ګلونه" کښې د ډرامو او فيچرونو شمېر 26 ليکلی دی"(12).

خو لکه چې وړاندې مو ليکلي دي، دغه کتاب کښې 13 ډرامې او څهٔ افسانې او مضامين دي.

لهٔ دې علاوه ما سره د رسا صاحب په رېډيو د نشر شوې يوې ډرامې "سوداګر" مسوده موجوده ده چې 24 اپرېل 1975ء تاريخ پرې درج دی او ناچاپه ده.

عبدالرؤف بېنوا:

ښتين صاحب وړاندې د عبدالرؤف بېنوا صاحب پهٔ نثر د بحث پهٔ سلسله کښې د پښتو د دوو ډرامو "زوړ ګنهګار" او "زلمی شهيد" او د فارسۍ د څلورو ډرامو نامې يې "اشتباه"، "اشيانهٔ عقاب"، "زرنګ" او "حکومت بېدار است" تذکره کړې ده"(13). خو دا پته نهٔ لګي چې د بېنوا صاحب دغه ډرامې خصوصاً پښتو ډرامې پهٔ کتابي شکل مخې ته راغلې دي کهٔ نهٔ.

اجمل خټک:

د اجمل خټک صاحب تذکره او پهٔ نثر بحث او د کتابونو نامو سره يې د هغوي د ډرامه نګارۍ تذکره نهٔ ده کړې، حالانکې اجمل صاحب ډېره موده پهٔ رېډيو پېښور کښې د سکرپټ رائټر پهٔ حېث ملازمت هم کړی دی او دې دوران کښې هغوي ډرامې او فيچرونه هم ليکلي دي.

پروفېسر افضل رضا يې خپل کتاب "ډرامه" کښې د دوه طبع زاد ډرامو "بې روزګاره" او "شکست و فتح" او د يوې ترجمه کړې ډرامې "انتقام" نامې ليکلې دي"(14).

عبدالخالق خليق:

د عبدالخالق خليق د نثر د تذکرې او پرې د بحث په سلسله کښې يې د دوې د دوو ډرامو تذکره داسې کړې ده:

"دۀ د "خور ژوندون" او "شهيد سکينه" په نامه دوه خوږې اجتماعي ډرامې هم ليکلې دي چې هر ځای مشهورې دي"(15).

د پښتونخوا د ډېرو ليکونکيو په رنګ دوي دا نۀ دي ليکلي چې خليق صاحب "خدايي خدمتګار" نومې ډرامه هم ليکلې وه او چې خليق صاحب يې خپل نثري سرګزشت "د ازادۍ جنګ" او منظوم خود نوشت "زۀ او زما زمانه" کښې په خپله يادونه هم کړې ده خو زما د تحقيق تر مخه هم د خليق صاحب په دغه مذکوره نامه کومه ډرامه نۀ ده چاپ شوې او د "قند" مردان په ډرامه نمبر (جولايي 1960ء) کښې خپله هم خليق صاحب د خپلو برنو دوو ډرامو نامې خو ليکلې دي، ولې د "خدايي خدمتګار" نوم يې نۀ دی ليکلی. د خليق صاحب يوه بله ډرامه په رېډيو نشر شوې وه چې نوم يې "وړوکی اختر" وۀ(16)

سمندر خان سمندر:

د سمندر خان سمندر صاحب د ډرامه نګارۍ په حقله رښتين صاحب ليکلي دي:

"سمندر لۀ شلو کالو راهسې دا هاغه دور دی چې سمندر بابا ژوندی وۀ او رښتين صاحب دا کرښې ليکلې په پېښور راډيو کښې په کاروبار لګيا دی. په دې موده کښې يې په سوونو مقالې او ډرامې ليکلې دي [ياد دې وي چې رېډيو کښې څوک مقالې نۀ ليکي فيچرونه، ډرامې، تقريرونه او تکلونه وغېره پکښې وړاندې کېږي] او خپرې شوې او هر چا ته يې نوم رسېدلی دی. عمر يې په شعرونو وئيلو، مقالو ليکلو او ډرامو جوړولو تېر کړي"(17).

خو متأسفانه د سمندر بابا د ډرامو نامې یې نهٔ دي لیکلې. افضل رضا چې "ډرامه" او مصطفي کمال "پښتو ډرامه (یوه مطالعه)" کښې د سمندر بابا د ډرامو کومې نامې لیکلې دي چې د پېښور ریډیو سټېشن نه نشر شوې دي، دا دي:

تېر وار ((1936ء) دا ډرامه د پښتو د دولسم جماعت د پاره نصابي کتاب کښې چاپ ده)، انتظار، یتیمه، ړنده باچایي، پښتنه، ښه شپه، د اسمان بنجاری، عدلِ جهانګیري، بختوره ورځ، خوار، د بابر مرګ، د کُنډې زوی، کُنډه، د ابلیس دربار، لُور خور (دا ډرامه د "قند" مردان پهٔ ډرامه نمبر کښې چاپ ده). ننګیالی شهید، قسمت او عقل، جماله، حرص، حلال خور، سُور پېزوان (دا ډرامه زما پهٔ لټون او سمون چاپ شوې د دولسو ډرامو کتاب "تماشې" اکتوبر 2014ء کښې چاپ شوې ده )، سوداګر، عنکبوت، شېرشاه، توري تیارې، ټیپو سلطان، دوه کانهٔ، تاج محل، ازمېښت، ادم خان درخانۍ، سسي پنو، بند صندوق، سُوکه، طارق بن زیاد، خوابِ هستي (د آغا حشر کاشمیري د اردو ډرامې ترجمه")(18).

ما سره خپله ذاتي کتب خانه کښې چې د ډرامو پهٔ فائل کښې د سمندر بابا کومې ډرامې د مسودو پهٔ شکل پرتې دي او ما د ریډیو پېښور نه تر لاسه کړې دي، د هغو نامې دا دي:

قسمت او عقل، سُور پېزوان، سوداګر، عنکبوت، شېر شاه، تاج محل، ازمېښت، ادم خان درخانۍ، بند صندوق، تېر وار، جهانګیر عادل، لُور خور، حرص، طارق بن زیاد.

همېش خلیل "د سمندر بابا د هغو قلمي ډرامو تفصیل چې وخت پهٔ وخت د ریډیو پاکستان پېښور نه نشر شوې دي"، سره د نشر کېدو د تاریخونو داسې ورکړې دی خو ما صرف د ډرامو نومونه لیکلي دي او نور تفصیلات د پاره دې لوستونکي باید دغه مصدر ته رجوع وکړي:

ډرامې:

د عمل ائینه، ریهرسل، د زړو تېر، وهم، خون، د اسمان منجاري، تېر وار، د ژوند اړ، وړوکی اختر، روغ نیت، نیمګړې دنیا، کنه باچایي،

ړنده باچـايي، لاغ، هغـه سـړی څـهٔ وي چـې لـهٔ ځانـه خبـر نـهٔ وي، ازمېښـت، د مـومن مېړانــه، مجاهـد، شـهادت عظـيم، د زړهٔ دربـار، فرعـون او ابلــيس، نکريـزې، حـرص، د صـبر مېـوه، سُـور پېـزوان، اقبـال پـهٔ اسمانونو کښـې، ښـه شـپه (لېلـة القـدر)، د ژونـد رمـز، د زلميتـوب خـوب، د لسـتونې مـار، دوه کانړهٔ (مزاحيـه)، خـوابِ هسـتي (د اغـا حشـر کاشـميري د ډرامـې څـهٔ برخـه)، د کـور رڼـا عـرفِ زهٔ بـه ځـم، قسـمت او عقـل، د غـنم دانـه، ژبـه، افيمـي، سـوداګر، ژونـدی لاش، د کُنـډې زوی، يتيمـه، لُـور خـور، کُنـډه، تـاج محـل، پښېماني، ټيپو سلطان، ګټه بائيلات"(19).

سيد بهادر شاه ظفر کاکاخېل:

د سـيد بهـادر شـاه ظفـر کاکاخېـل تـذکره کښـې د هغـوي پـهٔ نثـر تبصـره کـوي او د کتـابونو سـتائينه يـې د 412 مـخ نـه تـر 415 مـخ پـورې کـوي خـو دا نـهٔ ليکـي چـې هغـوي "د کليـو ښائسـت" پـهٔ نوم يـوه ډرامـه هـم تخليـق کـړې وه چـې پـهٔ بـر تهکـال کښـې سـټېج شـوې وه او کاکاخېـل صـاحب خـو تـر دې د دغـه ډرامـې خبـره مـخ پـهٔ وړانـدې بيـايي چـې د اسـلم خـان ختـک د مشـهورې ډرامـې "د وينـو جـام" مرکـزي خيـال هـم د دوي د دغـه ډرامـې نـه مـأخوذ دی. افضـل رضـا (پروفېسـر) يـې "ډرامـه" مـخ 81 بانـدې د ليـک کـال 35-1934ء ليکلـی دی او پـهٔ ريـډيو يـې د 1935ء نـه تـر 1995ء پـورې د نشـر شـويو ډرامو فهرست کښې شامله کړې ده.

پروفېسـر افضـل رضـا د دې ډرامـې پـهٔ حقلـه مکمـل معلومـات دا شـان راکوي چې:

"د پښـتو د اولنـۍ ريـډيو ډرامـې پـهٔ حقلـه د ښـاغلي سـليم شـاه کاکاخېـل د مضـمون "د وينـو جـام کـهٔ د کليـو ښائسـت" (مياشـتنۍ مجلـه "ليکـوال" پېښـور، سـتمبر 1993ء، د 25 نـه تـر 34 مخونـو) نـه دا معلومېږي چـې د ريـډيو اولنـۍ پښـتو ډارمـه "د کليـو ښائسـت" وه چـې سـيد بهـادر شـاه ظفـر پـهٔ کـال 1934ء کښـې ليکلـې وه. پـهٔ ريـډيو د نشـر کېـدو نـه وړانـدې دا پـهٔ تهکـال کښـې پـهٔ سـرکاري خـرچ د نـواب شـېرعلي پـهٔ حجـره کښـې سـټېج شـوې هـم وه. د دې ډرامـې د ليـک د پـاره پـهٔ 1934ء کښـې ښـاغلي قلـي خـان. د ټيچـر ټرېننـګ سـکول اداره کښـې د S.V ټرېننـګ کولـو. دا ډرامـه پـهٔ

ستېج ښاغلي ليکوال پهٔ خپله پېش کړې وه. د ډرامې مرکزي کردار يو بد کردار سړی وهٔ. دا کردار ست رام د ليکوال رومېټ ادا کړی وهٔ. دا د "ديهات سُدهار" پروګرام په سلسله کښې د کليو د اصلاح او ښېګړې د پاره ليکلې شوې اصلاحي ډرامه وه چې پهٔ يکم مئ 1935ء د پېښور ريډيو نه نشر شوه. دغه ډرامه کښې د نشو تماشو او قتل د جرم نه علاوه د ماحول پهٔ صفا ساتلو او تعليم هم ډېر زور اچولی شوی وهٔ. پهٔ دې ډرامه کښې ټول درويشت کردارونه وو"(20).

مصطفيٰ کمال هم خپل تحقيقي کتاب "پښتو ډرامه (يوه مطالعه)" کښې هم دا حواله پهٔ 39-40 مخونو راخستې ده او دا بحث يې تر 46 مخ پورې غځولی دی. (نور تفصيل د پاره دې دغه تحقيقي اثر ته رجوع وکړی شي)، البته د عبدالکريم مظلوم د زوي مختيار احمد زاهد هم دغه ډرامه د خپل پلار عبدالکريم مظلوم د "جګر خون" ګڼي چې د "قند" مردان پهٔ ډرامه نمبر جولايي 1960ء کښې يې خپله يوه مقاله "زما پلار او پښتو ډرامه" کښې ليکلي دي:

"مظلوم پهٔ ريښتيا مظلوم وهٔ ځکه چې د دهٔ پهٔ يو لوړ شاهکار د بل چا نوم وشو او پښتو ادب کښې مونږ يو داسې وګړی هم د ډرامه نګارو صف کښې وليدهٔ چې ډرامه نګار نهٔ وهٔ، نهٔ يې مخکښې چرته لوړ ډرامايي تخليق کړی وهٔ او نهٔ يې د دغې خېراتي ډرامې نه پس بله ډرامه وليکلې شوه. مظلوم د پټېدو سړی نهٔ وهٔ. هغه پهٔ خپلو تخليقاتو کښې ډېر ليدلی کېدی شهٔ. د هغهٔ طرزِ بيان کښې انفراديت وهٔ او هم دغه وجه وه چې کومه پياله د هغهٔ پهٔ وينو ډکه شوې وه، هغه دنيا وپېژندهٔ. دنيا پهٔ جار ووې چې دا د بل چا د جګر خون دی"(21).

ډاکټر محمد اعظم اعظم د خپلې پي.ايچ.ډي مقالې د "پښتو ادب کښې د ډرامې ارتقاء" پهٔ برخه کښې د مختيار احمد زاهد پهٔ دغه وينا ليکي چې:

"او د ښاغلي مختيار احمد زاهد د دې وينا تائيد او مرسته نزدې نزدې د پښتو واړه باشعوره لوستونکي اومحققين کوي چې د ژبې، بيان او اسلوب تر حده دا ليک هم د ښاغلي عبدالکريم مظلوم کېدی شي. دا

ممکنه ده چې بنيادي قيصه د ښاغلي اسلم خټک وي او دا هم کېدی شي چې د پلاټ په جوړښت او ډرامايي تشکيل کښې ښاغلي خټک د خپلې مطالعې په رڼا کښې د ښاغلي مظلوم سره لاس کړی وي خو د دې نه انکار نۀ شي کېدی چې د کردارونو په جوړښت او رغونه او مکالمو، ژبې او لهجې نه علاوه د نظم په برخه د ښاغلي مظلوم د اسلوب ټاپه صفا ښکاري"(22).

سيد انوار الحق:

رښتين صاحب وړاندې د سيد انوار الحق د تذکرې او نشر په لړ کښې د ښاغلي اجمل خټک د "اټک کی اس پار" نومې کتاب د 137 مخ په حواله ليکلي دي چې:

"ښاغلی اجمل (خټک) وايي چې "سيد انوار الحق ځينې ډرامې هم ليکلې او د پېښور لۀ راديو نه خپرې شوې دي"(23).

شايد د اجمل خټک صاحب د ريډيو د ملازمت په وخت کښې سيد انوار الحق (ډاکټر) ريډيو له ډرامې ليکلې او نشر شوې وي خو متأسفانه چې د پښتو ډرامې تاريخ ليکونکيو د پروفېسر افضل رضا نه تر مصطفٰی کمال پورې يې يو محقق او نقاد هم د ډرامه نګار په حېث تذکره نۀ ده کړې او نۀ يې چرته ډرامه په کتابي صورت کښې يا چرته په مجله کښې چاپ زمونږ لۀ نظره تېره شوې ده.

عبدالاکبر خان اکبر:

د پښتونخوا د مشهور ادبي او سياسي شخصيت عبدالاکبر خان اکبر د تذکرې په لړ کښې د دوي په ډرامو داسې قلم پورته کوي چې:

"د دۀ لومړۍ ډرامه "خدايي خدمتګار" چې په 1930ء کال د لوبيځ (سټېج) د پاسه وښودل شوه. نۀ يوازې دې نه بلکې ډېر نور خدايي خدمتګارو ورسره جېلخانو ته دننه کړی شول"(24).

د خان بابا دغه ډرامه اول وار په 1938ء کښې چاپ شوې وه. اوس مونږ خپل کتاب "تماشې" (اکتوبر 2014ء) کښې دوباره چاپ کړه.

رښتين صاحب وړاندې ليکي چې:

"اکبر پهٔ ډرامو لیکلو کښې هم غښتلی دی او ښائسته ډېرې اصلاحي او اجتماعي ډرامې یې لیکلې دي چې نومونه یې دا دي: جونګړه (دا یوه انقلابي او د ازادۍ لهٔ روح نه ډکه ډرامه ده)، خدايي خدمتګار، تعلیم جدید، تهذیب جدید، تربور (دا درې وروستۍ ډرامې یې نهٔ دي چاپ شوې)، کاروان روان دی (دا ډرامه یې پهٔ 1957ء کښې لیکلې ده"(25).

د خان بابا "جونګړه" نومې ډرامه پهٔ اول وار 1945ء کښې چاپ شوې وه او وروستو دوه وارې د "سوشلسټ ډرامه۔ مظلوم دنیا۔ جونګړه" پهٔ نامه او اوس زمونږ پهٔ لټون او سمون "تماشې" کښې پهٔ څلورم ځل چاپ شوه. "تعلیم جدید او تهذیب جدید" دوه ډرامې نهٔ بلکې یوه ډرامه ده چې رښتین صاحب یې دوه ډرامې یادې کړې دي او شاید چې دا غلط فهمي ورته د افضل رضا د کتاب "ډرامه" (67 مخ) نه شوې وي لکه څنګه چې صادق ژړک (د فخرِ افغان ځانګړنې، 132 مخ) ته غلط فهمي شوې ده او دغه یوه ډرامه هر دواړو افضل رضا او صادق ژړک دوه ډرامې ګڼلې دي. دا خبره یې سمه ده چې دا ډرامې پهٔ شمول "تربور" (دوه ډرامې) نهٔ دي چاپ شوې او "کاروان روان دی" اول پهٔ "رهبر" پېښور، 31 مۍ 1957ء کښې د م. ش پهٔ نوم، بیا پهٔ "غنچه" پېښور "بابړه نمبر" کښې، پهٔ درېم ځل د عبدالاکبر خان اکبر پهٔ نوم د صادق ژړک پهٔ زیار 2013ء کښې او اوس پهٔ څلورم ځل زمونږ پهٔ "تماشې" کښې د سید میر مهدي شاه باچا پهٔ نامه چاپ شوه. یاد دې وي چې د دې ډرامې د واقعاتو ترتیب خان بابا کړی وهٔ او مکالمې یې مهدي شاه باچا لیکلې وې نو پهٔ دغه بنیاد د ډرامې لیکونکی مهدي شاه باچا دی نهٔ چې عبدالاکبر خان اکبر (د تفصیل د پاره وګورئ زمونږ کتاب "تماشې") .

همېش خلیل د دوي د ډرامو پهٔ حقله لیکلي دي چې:

"پهٔ کال 1930ء د عبدالاکبر خان اکبر پهٔ صدارت کښې یوه لویه جلسه وشوه. دغه جلسه کښې د دوي مشهوره ډرامه "خدايي خدمتګار" ستېج شوه. د دې جلسې او ډرامې پهٔ نتیجه کښې د باچاخان، عبدالاکبر خان او میا احمد شاه نه علاوه پهٔ سوونو خدايي خدمتګاران ګرفتار کړی

شو....1945ء کښې د دوي يوه بله ډرامه "جونګړه" ستېج شوه چې وروستو بيا په کتابي شکل کښې چاپ شوه. "تربور" او "تعليم جديد او تهذيب جديد" هم د دوي اهمې ډرامې دي چې په کال 1926ء او 1929ء کښې پرله پسې ستېج شوې دي.

کال 1930ء د ګرفتارۍ نه پس دا دواړه ډرامې ضايع شوې دي. د دوي وروستۍ ډرامه "کاروان روان دی" نومېږي. دا ډرامه د کال 1957ء د مۍ د مياشتې په نولسمه ورځ د نېشنل کانفرنس په موقع شاهي باغ پېښور کښې ستېج شوه. حکومت دا ډرامه خلاف قانون وګرځوله. په کار کوونکيو يې مقدمه وچلوله چې هر کار کوونکی يې پينځه ويشت پينځه ويشت روپۍ جرمانه شۀ"(26).

هم د دغه کتاب په مخ 551 يې د عبدالاکبر خان اکبر د کتابونو نومونو کښې د دوي نوموړې ډرامې سره د سنونو داسې درج کړي دي:

"تربور (ډرامه) 1926ء کښې ستېج
يتيم (ډرامه) 1928ء کښې ستېج
تهذيب جديد او تعليم جديد (ډرامه) 1929ء کښې ستېج
خدايي خدمتګار (ډرامه) 1930ء کښې ستېج
جونګړه (ډرامه) 1945ء کښې ستېج
کاروان روان دی (ډرامه) 1956ء کښې ستېج"(27).

ياد دې وي چې د دغه وروستۍ ډرامې د واقعاتو ترتيب عبدالاکبر خان اکبر کړی وۀ او مکالمې يې مهدي شاه باچا ليکلې وې چې وړاندې پرې بحث را روان دی.

غلام جېلاني جلالي:

د غلام جېلاني جلالي په تذکره کښې رښتين صاحب د دوو ډرامو ذکر کړی دی خو د دواړو ډرامو نامې يې داسې ليکلې دي: "عشق او جستجو".ــ بيا يې ورته برېکټ کښې ليکلي دي: "دا دواړه ډرامې"(28). چې اصل کښې يوه ډرامه ده او افضل رضا "ډرامه په افغانستان کښې" تر عنوانه د رښتين صاحب دغه دوه يادې کړې ډرامې "د شاعر سرنوشت" او "عشق او جستجو" ليکلې دي"(29).

حافظ محمد ادریس:

د مخ 483 نه تر 487 یې د حافظ محمد ادریس تذکره، د نثر کتابونه او پرې بحثونه او څېړنې کړې دي خو د ډرامه نګار په حېث یې نه دی یاد کړی حالانکې د حافظ محمد ادریس صاحب چې په ریډیو کومې ډرامې نشر شوې دي، نامې یې دا دي:

"اخوت، د لاچارو مددګار (د دې ډرامې نامه سهواً "د لُوچرو مددګار" لیکلې شوې ده)، ښاپېری، شیراز"(30).

خیال بخاري:

د عظیم شاه خیال (بخاري) په تذکره کښې یې په مخ 500 د یوې ډرامې "مینه او فرض" نامه لیکلې ده خو افضل رضا یې د دولسو ډرامو نامې ذکر کړې دي چې په ترتیب دا دي:

"او غم غوځ شۀ، د تُورې وارث، لېونی، خوشحاله کورنۍ، مینه او فرض، توردلی او شهۍ، تربور، نامعلوم دوست، خپله خور [دا یې د خوېندو پروګرام کښې د نشر شویو ډرامو په ضمن کښې هم ذکر کړې ده] سباوون، بې کونډې پیالۍ، بابر."(30)

مهدي شاه باچا:

د مهدي شاه مهدي تذکره یې د مخ 507 نه تر مخ 511 کړې ده خو د ډرامه نګار په حېث نۀ، بلکې د افسانه نګار په حېث. د دوي لیکلې ډرامه "کاروان روان دی" یې د عبدالاکبر خان اکبر په تذکره کښې لیکلې ده چې وړاندې مو پرې بحث کړی دی خو چونکې نورو لیکونکیو هم مذکوره ډرامه د عبدالاکبر خان لیکلې یاده کړې ده او د مهدي شاه باچا نامه ورسره چا هم نۀ ده یاده کړې.ـ ځکه پرې رښتین صاحب هم ګُرم نۀ دی.

عبدالله جان اسیر:

د عبدالله جان اسیر (د زېدې صوابۍ) د "درسِ عبرت" د تذکرې او پرې د تنقیدي تبصرې په سلسله کښې یې لیکلي دي:

"درسِ عبرت د عبدالله جان اسیر لیکلې ډرامه ده چې څو کاله پخوا په پېښور کښې خپره شوې ده... د پېښور په رادیو کښې (یې) هم کار کړی دی، نورې ډرامې یې هم لیکلې دي خو (درسِ عبرت) یې تر ټولو

مشــهوره ده. پـهٔ دغــه ډرامــه کښــې د پښــتني ټــولنې د نــاوړو رواجونــو او عــادتونو بــده څېــره انځــور شــوې او يــوه انتقــادي روح لــري. پښــتو يــې لــهٔ عــامې محــاورې ســره نــزدې ده او د خپــل وخــت يــوه ښــه ډرامــه ګڼــل کېږي"(31).

د دغــه اقتبــاس نــه مــونږ تــه د دوؤ خبــرو پتــه لګــي. اول دا چــې دا ډرامــه پـهٔ 1935ء کښــې ليکلــې شــوې ده او بلــه دا چــې دا ډرامــه ســټېج شــوې نـهٔ ده خــو د "درسِ عبــرت" پــهٔ دوېــم چــاپ (کــال نــهٔ لــري) محمــد جــان ګنــډاپور خپلــو تأثراتو کښې د نورو ډېرو خبرو نه دا هم ليکلي دي چې:

"د پښــتو د ژونــد د عــام مرضــونو خاکــه او د هغــې صــحيح تشــخيص د اسـير د ښـېرازه مــازغو نــه د "درسِ عبــرت" پــهٔ شــکل کښــې راوتــې دی. مــا دغــه ډرامــه پــهٔ ســټېج ليــدلې ده او زهٔ بــلا مبالغــه وئيلــی شــم چــې "درسِ عبرت" پهٔ ريښتيا سره موزون او مؤثر درس دی"(32).

خــو بيــا محمــد جــان ګنــډاپور دا نــهٔ دي ليکلــي چــې دا ډرامــه کلــه او کــوم ځــای ســټېج شــوې ده؟ "درسِ عبــرت" پــهٔ دوؤ برخــو کښــې مختلفــو کلونــو کښې چاپ شوې ده لکه چې مصطفيٰ کمال ليکلي دي:

""درسِ عبــرت" پــهٔ کــال 1935ء کښــې ليکلــې شــوې وه او بيــا د دې دوېمــه برخــه هــم پــهٔ کــال 1956ء کښــې رامخــې تــه شــوه خــو دا برخــه د وړومبــۍ برخې نـه قـدرې پـهٔ بـل او بـدل رنـګ وه او ليکـوال پکښـې د ډرامـې قيصـه د نورو او نوو کردارونو پهٔ زور وړاندې غزولې ده"(33).

دغــه رنــګ زمــونږ د معلومــاتو تــر مخــه دا ډرامــه دوه ځلــه بيــا هــم چــاپ شــوې ده چــې پــهٔ دوېــم چــاپ يــې کــال نــهٔ دی ليکلــی خــو غالبــاً چــې 1954ء دی ځکه چې د "دوېم اشاعت" تر سر خط لاندې عبدالله جان اسير ليکلي دي:

"قريبــاً نــولس کالــه وشــو چــې "درسِ عبــرت" پــهٔ وړومبــي ځــل چــاپ شوې وه"(34).

نــو چــې اول اشــاعت يــې 1935ء کښــې چــاپ دی او دوېــم چــاپ يــې نــولس کــال پــس دی نــو دا کــال 1954ء راځــي او بــره مــو د مصــطفيٰ کمــال پــهٔ اقتبــاس کښــې دغــه کــال 1956ء ولوســتو چــې د دوېمــې برخــې د اشــاعت کــال بيــانوي. دغــه ډرامــه پــهٔ درېــم ځــل اګســت 1997ء کښــې "رېپــډيکس

ګرافکس او کمپوزنګ سنټر" چاپ کړې ده (چې طبع اول ورته لیکلې شوي دي) او د موندو درک پرې "عظیم الله عظیم اسیر کېډټ سکول شاه منصور صوابۍ" لیکلی شوی دی. وروستني دواړه چاپونه دواړه برخې یو ځای چاپ شوې دي او د هغو ټولو لیکونکیو تأثرات پرې نشته چې خپلو لیکونو کښې یې د دې ډرامې ستائینه کړې ده. د دغو ښاغلیو نامې دا دي: صاحبزاده عبدالقیوم خان، مولانا عبدالقادر، شاه عالم خان صاحب، نور الٰهي خان او ډاکټر محمد جان خان ګنډاپور.

یاد دې وي چې د یونیورستي بُک اېجنسي نه په اول ځل کوم "درسِ عبرت" چاپ شوی دی په هغې کښې یو خو دواړه حصې راغلې دي او بل پکښې د لیکونکیو تأثرات نشته او د اشاعت کال هم نه لري، ولې په حصه دویم 123 مخ یې 1956ء درج دی نو داسې برېښي چې دا کال د دویمې حصې د لیکلو دی نه چې د چاپ کال، لکه چې وړاندې مو د مصطفیٰ کمال په اقتباس کښې لوستي دي. بل خوا یې ډاکټر اعظم هم د لیکلو کال 1956ء یادوي او په دواړو برخو ورسره داسې تنقیدي تبصره لیکي چې:

"د "درسِ عبرت" دویمه برخه په کال 1956ء کښې لیکلې شوې ده او د دغې برخې اکر بکر او کړۀ وړۀ د اولنۍ برخې نه بیخي بدل ښکاري. د "درسِ عبرت" په دغه دویمه برخه کښې د جمیل او نسیم په کردارونو د نوې زمانې د چل ول، ټګۍ او فرېب رنګونه ختلي دي. جمیل د یو سیاسي رهنما او نسیم د یو روحاني پیر په جامه کښې ساده اولس ټګي او لوټي او د هغوي د سادګۍ او بې علمۍ نه پوره پوره فائده اخلي.

"درسِ عبرت" (خصوصاً اولنۍ برخه) په ډېرو خبرو کښې "د وینو جام" سره شریک دی او "د وینو جام" اثرات پرې سوارۀ ښکاري، ولې بیا هم د دې ډرامې د اصلاحي او تعلیمي ښېګړې او افادیت یو خپل ځای دی او پښتو ډرامه لیکونکو چې د اولسي معاشرې د اصلاح او معاشرتي اقدارو د سپېځلتیا په لړ کښې کوم زنځیر ته ګوتې اچولې وې، "درسِ عبرت" د دغه زنځیر یوه اهمه کړۍ ده"(35).

اسلم خټک:

لـۀ دې وروسـتو رښـتین صـاحب "د وینـو جـام" پـۀ خپلـه تنقیـدي تبصـره کښې داسې لیکلي دي چې:

"د وینـو جام.ـــ د پښـــتو یـوه زړه ډرامـه ده چـې د "درسِ عبـرت" نـه وروسـتو لیکلـې شـوې ده. د پښـتنو د تربگنـو، کورنـو جگـړو، مرکونـو او دښـمنیو یـو ژونـدی انځـور دی. خـدای خبـر اسـلم خټـک دغـه ډرامـه پـۀ کـوم نیـت لیکلـې وه، ښـایي چـې نیـت یـې اصـلاحي وي مگـر د پښـتنو د سـپکاوي خبـرې پکښـې ډېـرې دي. د ډرامـې ژبـه سـاده او روانـه ده او ښـې اغېزنـاکې ټـوټې لـري. دغـه ډرامـه نـزدې 22 کالـه پخـوا چـاپ شـوې ده [اوس دغـه کلونـه د 22 نـه 73 شـوي دي ځکـه چـې کلـه رښـتین صـاحب دا کتـاب لیکـۀ نـو هغـه وخـت کښـې اسـلم خټـک ژونـدی وۀ او اوس د انگرېـزۍ د یـوې مقولې تر مخه د پُل لاندې ډېرې اوبۀ تېرې شوې دي].

اسـلم خټـک چـې کـوم وخـت دغـه ډرامـه لیکلـه نـو د پېښـور د پـوهنې مـدیر وۀ. بیـا لـوی سـړی شـۀ او سـفارتونو تـه ورسـېدۀ. د سیاسـت تبـر ورلـه د قلـم څُوکـه ماتـه کـړه. بیـا یـې د پښـتو د پـاره څـۀ و نـۀ لیکـل. پـۀ ادب کښـې د زړۀ وینې خوړل کېږي او دا وینې هر څوک ټول عمر نۀ شي خوړلاې"(36).

اولنـۍ خبـره خـو دا کـوم چـې "د وینـو جـام" اول لیکلـې شـوې ده او کتابـت یـې روان وۀ چـې د فضـل ودود (کاتـب) سـره عبـدالله جـان اسـیر ولیدلـه او د دې پـۀ تتبـع کښـې یـې د ډرامـې لیکلـو عندیـه ځرگنـده کـړه او فضـل ودود صـاحب ورسـره وعـده وکـړه چـې کـۀ تـا داسـې ډرامـه ولیکلـه نـو زۀ بـه یـې کتابـت ویړیـا وکـړم او بیـا اسـیر صـاحب "درسِ عبـرت" (اولـه برخـه) ولیکلـه چـې د قیصـې موضـوع، پښـتنو کردارونـو او پښـتون مـاحول سـره سـم یـې "د وینـو جـام" کښـې ځهـره ښـکارېده. ځکـه نـو د رښـتین صـاحب دا خبـره سـمه نـۀ ده چـې "درسِ عبـرت" اول او "د وینـو جـام" وروسـتو لیکلـې شـوې ده.

"د وینـو جـام" 1935ء کښـې پـۀ رېـډیو نشـر شـوې او لیکلـې شـوې لـۀ دې وړانـدې ده او "درسِ عبـرت" پـۀ 1935ء کښـې پـس تـه لیکلـې شـوې ده او پـۀ 1937ء کښې چاپ شوې ده.

بلـه خبـره يـې پکښــې د پښــتنو د سـپکاوي کـړې ده نـو د هـر چـا خپـل خپـل خيـال دی خـو زمـا تـر پامـه داسې بيخـي نـۀ ده بلکې کـوم کردارونـه چې بـد او بـدرنګ وي نـو د ليکـونکي فـرض جـوړېږي چـې د فنپـارې د فنـي لوازمـاتو د خيـال سـاتلو سـره سـم يـې اولـس تـه هـم هاغـه شـان وړانـدې کـړي څنګـه چې پـۀ ټولنـه کښـې د هغـوي کـردار وي او دغـه وجـه ده چې پـۀ قيصـو کښـې ځينـې کردارونـو سـره زمـونږ مينـه او پـۀ زړۀ کښـې د تـرحم جذبـه پيـدا شي او ځينې کردارونه مو لۀ سترګو چپ راشي او نفرت مو ترې پيدا شي.

درېمـه خبـره دا ده چـې اسـلم خټـک "د وينـو جـام" نـه عـلاوه "ګـل مسـتي" نـومې د مقـالو او مضـامينو مجموعـه هـم د يونيورسـټي بُـک ايجنسـي پېښـور نـه چـاپ کـړې ده. دغـه ليکونـه د مولانـا عبـدالقادر پـۀ ادارت کښـې د ډيلـي نـه چاپېـدونکې مجلـه "نـن پـرون" کښـې د "ګـل مسـت خـان" پـۀ فرضـي نامـه چـاپ شـوي دي او ځکـه يـې دغـه مجمـوعې لـه نامـه هـم "ګـل مسـتي" ايښـې ده چې ذو معنويـت پکښـې پيـدا شـوی دی البتـه اسـلم خـان خټـک "د وينـو جـام" نـه پرتـه بلـه ډرامـه نـۀ ده ليکلـې او پـۀ هغـې هـم د ځينـو ليکـونکيـو دا اعتـراض دی چـې دا د بـل چـا د وينـو جـام دی ولـې پرېشـان خټـک يـې داسې سپيناوی کړی دی چې:

"دا يـوه بيخـي غلطـه او ناپسـندلې دعـویٰ ده ځکـه چـې ښـاغلي محمـد اسـلم خـان خټـک دا ډرامـه پـۀ انګرېـزۍ کښـې د "The Bloody Cup" پـۀ نـوم هغـه وخـت ليکلـې وه چـې دۀ پـۀ اکسـفورډ (لنـدن) کښـې سبق وئيلـو. د خټـک صـاحب يـو بـل کتـاب د "ګـل مسـتي" پـۀ نوم چـاپ شـوی دی. پکـار دي چـې پـۀ هغـۀ دا دعـویٰ وشـي چـې قاضـي عبـدالحليم اثـر صـاحب ليکلـی وۀ خو نوم پرې (د) خټک راغی"(37).

عبدالرحمان پژواک:

""کلمــه داره روپــۍ" يــوه وړه غونــدې ډرامــه ده چــې د افغانســتان نوميـالي ليکـوال ښـاغلي پـژواک (پـژورک ليکلـی شـوی دی) 22 کالـه پخـوا ليکلـې وه او دا اووۀ کالـه کيـږي چـې پښـتو ټـولنې چـاپ کـړې ده. د پښـتنې دود دسـتور يـوه ښـکلې کښـيده، ژبـه يـې روانـه مګـر د ژبـدود لـۀ خـوا ځينـې کـوچنۍ تېروتنـې لـري. دا د ښـاغلي عبـدالرحمان پـژواک د هغـه وخـت

یادګـار دی چـې پـهٔ پښـتو ټولنـه کښـې د انګرېـزۍ ترجمـان او پـهٔ زړهٔ ارمـان ژن وهٔ"(38).

د عبـدالرحمان پـژواک دغـه ډرامـه ښنګـه ده او ښنګـه نـهٔ ده؟ مـونږ پـرې لـهٔ څـهٔ وئیلـو قاصـر ځکـه یـو چـې پـه لاس کښـې یـې نـهٔ لـرو خـو چـې رښـتین صـاحب یـې یادونـه او سـتائینه کـړې ده نـو دغـه لـړه شـان تنقیـدي تبصـره پـرې هم دومره غنیمت دی.

امیر نواز خان جلیا:

د امیر نواز خان جلیا د "درد" ډرامې پهٔ حقله لیکي چې:

"دا ډرامـه امیـر نـواز خـان جلیـا هغـه وخـت لیکلـې ده چـې پـهٔ زړهٔ دردمـن او د مینـې پـهٔ اور جلیـا وهٔ. دا هغـه شـپې وې چـې د دهٔ لـهٔ زړهٔ نـه د اور لمبـې ختـې او د "انګـار" پـهٔ نامـه یـې پښـتو اخبـار چـلاوهٔ. د اتمـانخېلو شـموزی پښـتون هـم چـې د "اتمـانزو" پـهٔ خـاوره کښـې ولـوېږي نـو د پړانـګ غـار زمـری تـرې جـوړېږي. د خـدایي خـدمتګارۍ پـهٔ سـر یـې د جېلخـانو زنځیرونـه وشـرنګول او چـې (درد) ډرامـه یـې د غیـرت پـهٔ لوبغـالۍ ولوبولـه نـو د سرکار زولنۍ ورته بیا وشرنګېدلې او دی سره لهٔ نورو لوبغاړو بندي شهٔ.

دا ډرامـه لـهٔ درد نـه ډکـه ده او د ازادۍ جـوش پکښـې زیـات دی. جلیـا اوس د 53 کـالو پـهٔ عمـر کښـې سـتومانه ښـکاري او پخـوانۍ چـپې یـې پرېـوتې دي. بـل اثـر یـې مـونږ نـهٔ دی لیـدلی، کلـه کلـه د سـوز شـعر هـم وایي"(39).

لکـه چـې د رښـتین صـاحب لـهٔ دغـه اقتباسـه څرګنـدېږي، دغـه لیکـل هغوي د امیر نواز خان جلیا پهٔ ژوندانهٔ کړي وو.

امیـر نـواز خـان جلیـا "درد" پـهٔ 1931ء کښـې لیکلـې وه او د وړوکـې کتـابګي پـهٔ شـکل کښـې هـم پـهٔ دغـه کـال چـاپ شـوې وه. د چـاپ نـه پـس پـهٔ اپریـل 1931ء کښـې خـدایي خـدمتګارو پـهٔ "بـابړه" چارسـده کښـې سـټېج کـړه او پـهٔ سبا لـه ټـول کردارونـه ونیـولي شـو او ډرامـه ضـبط کـړې شـوه چـې لـږ و ډېـر تفصـیل یـې وړانـدې راغلـی دی. دا ډرامـه د ډاکټـر خالـد خـان خټـک پـهٔ وسـاطت د لنـدن نـه زمـونږ لاسـونو تـه راورسـېده چـې یـوه فوټوکـاپي یـې ښـاغلي همـېش خلیـل هـم راپېـرزو کـړې وه او د پروفېسـر ډاکټـر فضـل

الرحيم مروت پهٔ اهتمام مو د "باچاخان مرکز پېښور" نه پهٔ 2012ء کښې دوباره ځان له کتابي شکل کښې چاپ کړه او پهٔ دریم ځل زمونږ کتاب "تماشې" (د 1930ء نه تر 1970ء پورې سټېج او رېډيايي ډرامې) کښې پهٔ اکتوبر 2014 کښې هم د امیر نواز خان جلیا د پېژندګلو او پهٔ دې ډرامه د تنقیدي تبصرې سره چاپ شوه( مقدمه کښې د دې ډرامې د دویم چاپ کال سهواً د 2012ء پهٔ ځای 1912ء لیکلی شوی دی. لوستونکي دې خپلو نسخو کښې تصحیح وکړي).

قلندر مومند:

د قلندر مومند د افسانو "ګجرې" تذکره یې پهٔ 537-538 مخونو کړې ده، د دوي د علمي مقالو او دوو نورو کتابونو "تنقید" او "نظمیات" تذکره یې هم کړې ده خو د یو ډرامه نګار یا د ډرامې د مترجم پهٔ حېث یې ذکر نهٔ کوي حالانکې قلندر صاحب د افضل رضا د "ډرامه" 83 تر مخه د "جاله وان"، "تور ګلاب" او "د کور کار" نومې ډرامو لیکونکی هم دی. د ښاغلي عمر ناصر (د رېډيو سټېشن پخواني ډائرېکټر) د وینا تر مخه چې ماته یې پهٔ یو ملاقات کښې وئیلي وو چې پهٔ قلندر صاحب مې دوه ډرامې د رېډيو د پاره لیکلې وې- د یوې نوم "جاله وان" او د بلې نامه "تور ګلاب" وه چې د البګزنډر ډېوما د انګرېزي ناول " The Black Tulip" پښتو ډرامايي تشکیل وهٔ.

زما د معلوماتو تر مخه قلندر مومند د پښتو یوه فلمي قیصه (ډرامه، مکالمې او سندرې) هم د "دوست دښمن" پهٔ نامه لیکلې وه چې پهٔ سنېماګانو ریلیز شوې هم دی. دغه رنګ هغوي د شکسپئیر مشهوره ډرامه "مېکبث" هم پښتو کښې منظومه ترجمه کړې ده چې د درې میاشتنۍ مجلې "تاتره" پېښور کښې یې اولنی قسط جولايي/ستمبر 2001ء او وروستنی قسط اکتوبر/دسمبر 2006ء کښې چاپ شوی دی خو دغه ډرامه لاپوره کتابي صورت کښې چاپ شوې نهٔ ده. لهٔ دې علاوه قلندر صاحب یوه بله ډرامه سره د سندرو "د رومان شهزادګۍ" پهٔ نامه هم لیکلې ده چې د مسودې پهٔ صورت کښې پرته ده او لاچاپ شوې نهٔ ده.

رشید علي دهقان:

"دا "د سرو تعویذ" رشید علي دهقان جوړ کړی دی خو نهٔ پوهېږو چې دهقان څنګه د زرګر کار ته لاس اچولی دی.... دهٔ د "عبرت" پهٔ نامه یوه ډرامه هم لیکلې ده.... چاپ شوې مشهوره ډرامه یې "د سرو تاویذ" نومېږي او یو خوندور اثر دی. د دې ډرامې پهٔ سر کښې یې یوه ډېره خوږه او پخه سریزه لیکلې ده او لهٔ پښتو سره یې د پښتنو پهٔ بې پروایۍ ډېر ژړلي دي. دی وایي: "کوم یو قام چې هغه پهٔ خپله ژبه شرمېږي، هغه پښتانهٔ دي." بل ځای وایي چې پښتانهٔ همېشه د پاره د اغیارو پهٔ لاسو کښې لکه ګوډاګي لوبېدلي دي او هر چا دوي د خپل مطلب د پاره جنګولي دي. ښاغلی عابد "د سرو تاویذ" پهٔ سریزه کښې دغه ناول ته یوه قیمتي تحفه او لوي تخلیق وایي. زمونږ پهٔ نظر هم یو ښهٔ اثر دی خو کهٔ د (معظم، جمشېد او کلثوم) پهٔ ځای یې پښتو نومونه راوړي واې نو خوند به یې نور هم زیات شوی واې. د کوزې پښتونخوا لیکوال پهٔ خپلو کتابونو کښې دې پلو ته هېڅ پام نهٔ کوي او زیات پنجابي او پردي نومونه راوړي او د پښتو خوند پرې خرابوي."(40)

رښتین صاحب "د سرو تعویذ" نه علاوه د دهقان صاحب د "عبرت" نومې ډرامې تذکره هم کړې ده. بل لوري ته یې "د سرو تاویذ" ته ډرامه هم وئیلې ده او بیا د ښاغلي عابد پهٔ لیکلو کښې ورته ناول هم وئیلي شوي دي نو پهٔ دې یې څهٔ خبره نهٔ ده کړې چې دا ډرامه ده کهٔ ناول؟ او وروستو د "معظم، جمشېد او کلثوم" پهٔ نومونو هم اعتراض کوي او د کوزې پښتونخوا لیکونکي پرې ګرموي چې پهٔ دوي د پنجابۍ او نورو پردیو ژبو اثرات دي. نو زما تر پامه د دنیا هېڅ یوه ژبه د خپل چاپېرچل د نورو ژبو د اثراتو نه خالي نهٔ ده. د افغانستان پهٔ پښتو د دري، روسۍ، فرانسیسۍ او اطالوي ژبې اثرات واضح لیدی شي. د ژبو دا بحث ډېر طویل دی خو زمونږ ټولني دغه ټول توري او نامې خپل کړي دي چې زمونږ پهٔ افسانو، ناولونو، ډرامو او نورو قیصو کښې مخې ته راځي. دا پهٔ معاشره کښې شته نو ځکه زمونږ پهٔ نګارشاتو کښې هم برېښي. پهٔ هر حال مونږ هم دغه بحث پهٔ ځای پرېږدو او بېرته د دهقان ډرامه نګارۍ ته رجوع کوو.

افضل رضا يې خپل کتاب کښې د يوې طبع زادې ډرامې "ډرائيور" او د دويمې ترجمه شوې ډرامې "شپږمه ګوته" ذکر کړی دی، دغه رنګ ډاکټر محمد اعظم اعظم د دوي د دوو نورو ډرامو "مانګی" او "د ځوانۍ خوب" نومونه هم ليکلي دي"(41).

مصطفيٰ کمال هم "د سرو تعويذ" ډرامه ګڼي نۀ چې ناول دې لړ کښې دوي ليکلي دي چې:

"رشيد علي دهقان هم د پښتو ډرامې ـــ پۀ حواله د ذکر وړ نوم دی... د پښتو ډرامې پۀ بابله هم د هغۀ خدمات د چا نه پټ نۀ دي. دې ښاغلي د "مانګی"، "د ځوانۍ خوب" او "د سرو تعويذ" غوندې ډرامې پښتو ژبې او ادب ته پېرزو کړې دي. پۀ دغو کښې "د سرو تعويذ" زمونږ بعضو مشرانو او ملګرو [نامې يې نۀ دي ليکلې] د پښتو ناول ګڼلی دی خو "د سرو تعويذ" ديباچې تر مخه ښاغلی دهقان پۀ خپله وايي چې دا هغۀ ډرامه ليکلې وه. اوس کۀ دا اثر د ډرامې د فن نه راغورځېږي نو ضروري نۀ ده چې مونږ يې راواخلو او لۀ خپله انده يې د پښتو ناولونو پۀ قطار کښې کېږدو"(42).

پۀ دې لړ کښې د مجله "لار" پېښور پۀ "تنقيد نمبر" (8-9 ګڼه، اګست/ستمبر 1958ء) کښې د محمد لطيف وهمي مقاله چې د عملي تنقيد پۀ نمونو کښې ليکلې شوې ده، "د سرو تعويذ" د مخ 104 نه تر 106 پورې راغلې ده. دا يو وړوکی غوندې اقتباس ترې پېش کوم چې وهمي صاحب پکښې ورته څو ځايه ډرامه وئيلي دي:

"... ډرامه کښې څۀ فني کمی محسوسېږي مګر هغې ته مصنف پۀ سريزه کښې پۀ خپله اشاره کړې ده. اميد دی چې د بل ايډيشن پۀ چاپ کولو به د دغو خبرو خيال وساتي او د ډرامې نه به دغه کمی وباسي. ډرامه کښې کوم ځای چې د ملنګ پۀ بنديي (د اصل مطابق) زمان قيصه کوي، دغه هم د ډرامه نګار نه غير شعوري طور باندې خوئېدلې ده. دغلته زمان له پکار وو چې ټوله قيصه (يې) پۀ خپله کړې وه. دغلته د جينۍ د مکالمې حاجت نشته"(43).

محمد خالد روښان:

رښتين صاحب د خپل کتاب په مخ 541 د محمد خالد روښان يوه وړه ډرامه "د شېرشاهي پېښه" په نامه ياده کړې ده چې په 1321 ش کال (1942ء) کښې يې ليکلې ده. چونکې د چاپ په اړه يې څه نه دي وئيلي او نه دلته زمونږ له نظره تېره شوې ده او نه يې بل کوم تذکره نګار د ډرامې د فن او موضوع په باب څه وئيلي دي ځکه نو په غېر موجودګۍ کښې پرې څۀ وئيلي نۀ شو.

اياز داودزي:

د اياز داودزي د ډرامو په حقله يې ليکلي دي چې:

""ښکلا" د اياز داودزي يوه ښکلې ډرامه ده. دۀ څۀ نورې ډرامې هم ليکلې دي چې "خوله"، "مېرمن"، "ښادي خان او بيبو" نومېږي. دغه ټولې د پېښور له راديو نه خپرې شوې دي خو په چاپي ډول مونږ نۀ دي ليدلې"(44).

افضل رضا يې خپل کتاب کښې د نوم وړو ډرامو نه پرته د "جل پرې" نومې ډرامې يادونه هم کړې ده"(45).

دا سمه ده چې کله رښتين صاحب د پښتو نثر هنداره ليکله او تر 1993ء چاپ پورې رارسېدله نو هاغه وخت د اياز داودزي صاحب دغه ډرامې نۀ وې چاپ شوې. اوس دغه ټولې ډرامې په کتابي شکل کښې د "ښکلا" په نوم وجود لري چې تفصيلات يې راته پروفېسر ډاکټر محمد همايون هما راکړي دي او هم د هغوي په مننه يې وړاندې کوم.

د اياز داودزي "ښکلا" د افضل شوق په ترتيب او تدوين په کال 2007ء کښې چاپ شوې دی چې څلور ډرامې "د شاعر خوب"، "ښکلا"، "ښادي خان او ببو" او "خوله" پکښې شاملې دي. له دې علاوه پرې د ښاغليو قمر راهي، ممتاز علي خان ليکونه او د پروفېسر محمد همايون هما تفصيلي مقدمه "ښکلا يوه مقدمه" او د افضل شوق "خيالَور او خوبولی ډرامه نګار" هم شامل دي. د "يو څو خبرې" تر عنوانه پرې اياز داودزي خپل ليکل هم کړي دي. ټولې صفحې يې 130 دي"(46).

اېس.ای. رحمان کاکاخېل:

د اېس.ای. رحمان کاکاخېل د يوې ډرامې "نيمگړی خوب" په لړ کښې ليکي چې:

"د يو څو اجتماعي اصلاحي ډرامو مجموعه ده چې ښاغلي رحمان کاکاخېل ليکلې ده او په 264 مخو کښې چاپ شوې ده"(47).

حالانکې د اېس.ای رحمان کتابي صورت کښې هم ډېرې ډرامې چاپ شوې دي خو شايد د رښتين صاحب تر نظره نۀ وي تېرې شوې نو ځکه يې د دوي د بلې کومې ډرامې ذکر نۀ دی کړی. د پښتو ډرامې په تاريخ کښې د اېس.ای رحمان کاکاخېل ډېر لوی کردار دی چې د رېډيو د پاره يې ګڼ شمېر ډرامې ليکلې دي او بيا يې کتابي صورت کښې هم چاپ کړې دي. د دوي په ډرامو کښې د معاشرې د اصلاح رنګ دومره غالب دی چې زمونږ د تعليم ماهرانو د ماشومانو د تربيت د پاره په نصاب کښې هم شاملې کړې دي.

په دغه کتاب کښې د نيمگړي خوب نه علاوه دوه وړې رېډيايي ډرامې "عملي" او "پښېمانه" هم د سُوچه پښتني چاپېرچل د ځينو بې ژواکه او ناړامه کردارونو ډېره ساهو ترجماني کوي.

په نيمګړي خوب پسې د ښاغلي رحمان بله ډرامه "اور او اوبۀ" په کال 1960ء کښې چاپ شوه. په "اور او اوبۀ" کښې د نيمګړي خوب مصنف د نوي دور د ماحولي او فکري غوښتنو په سمي هم د موضوع په توګه او هم د تکنيک په لحاظ پرمخ تګ کړی دی"(47).

ډاکټر اعظم وړاندې د هغوي د بلې چاپ کتابي ډرامې "تربور" (عرفِ زېبا) په حقله د خپلې تبصرې سره د حافظ محمد ادريس فاضلانه رايې هم رانقل کړې ده چې:

"په "اور او اوبۀ" پسې سمه د دې ليکونکي درېمه ډرامه "تربور" (عرفِ زېبا) په کال 1961ء کښې چاپ شوه. د دې ډرامې کړۀ وړۀ د "اور او اوبۀ" سره ډېر مشابهت لري او فاضل پروفېسر حافظ محمد ادريس د دې ډرامې په حقله خپله فاضلانه رايې داسې ښکاره کړې ده:

"په دې ډرامه کښې مې يوه خبره دا هم وليده چې نۀ پکښې مجنون شته او نۀ لېلی. سره د دې چې هم پکښې مجنون شته او هم لېلی خو د مصنف قلم دومره سابانه دی چې يوه خور دا کتاب خپل ورور ته اورولی شي او يو زوی يې د خپلې مور پۀ مخکښې لوستی شي"(48).

د اېس.ای رحمان کاکاخېل د دغه کتابي ډرامو "نيمګړی خوب"، "اور او اوبۀ" او "تربور" (عرفِ زېبا) پۀ حقله تفصيلي بحث د پاره دې هم د ډاکټر محمد اعظم اعظم صاحب د دغه کتاب 448 نه تر 454 مخونو ته رجوع وکړې شي.

د اېس.ای رحمان کاکاخېل کتابي ډرامې "اور او اوبۀ" ته د اباسين آرټ سوسايټۍ لۀ خوا انعام هم ورکړی شوی ؤ.

پۀ "اور او اوبۀ" ډارمه کښې د پښتنو د دښمنيو او بيا د نوي تعليم د اثر عکاسي شوې ده"(49).

د کاکاخېل د دغو ډرامو نه علاوه يوه بله ډرامه "د صبر انجام" پۀ نوم د "قند" مردان (ډرامه نمبر، جولايي 1960ء) کښې هم چاپ شوې ده.

قمر الزمان راهي:

"د سمندر شهزادګۍ: دا ډرامه ښاغلي قمر الزمان راهي لۀ انګرېزۍ نه پۀ روانه پښتو ترجمه کړې ده"(50).

دا خبره سمه ده چې قمر راهي صاحب طبع زاد ډرامې نۀ دي ليکلې او دغه يوه ډرامه يې ترجمه کړې ده خو د پښتو ډرامې پۀ لړ کښې چې يې د پښتو صحافت لۀ لارې د ډرامې کوم خدمت کړی دی، هغه د چا نه پټ نۀ دی چې نۀ خو لۀ دې وړاندې او نۀ دومره ضخيم نمبر د پښتو ډرامې کومې مجلې ويستلی دی يا کوم مدير ترتيب کړی وي. د دې ډرامه نمبر (اولنې) د ترتيب سهره د محترم قمر راهي پۀ سر ده او چې څومره ستائينه يې وشي، کمه به وي.

عبدالمنان دردمند:

"د ازادۍ مجاهد" دا ډرامه د ښاغلي عبدالمنان دردمند اثر دی"(51).

د ډرامې پۀ حقله چې کوم کتابونه زمونږ پۀ لاسو کښې دي لکه د "قند" مردان د جولايي 1960ء ډرامه نمبر، "پښتو ادب کښې کردارنګاري" د ډاکټر محمد اعظم اعظم (د پي.ايچ.ډي مقاله)، "ډرامه ـ تاريخ تنقيد او فن" د افضل رضا، "پښتو ډرامه يوه مطالعه" د مصطفيٰ کمال او زما تاليف "تماشې" يو تن هم د عبدالمنان دردمند "د ازادۍ مجاهد" تذکره نۀ ده کړې. البته د "عبدالمنان ملګري" د ډرامو نومونه افضل رضا صاحب ورکړي دي ولې هغې کښې بيا د دغه نومورې ډرامې "د ازادۍ مجاهد" نامه نۀ ده راغلې.

محمد رضا مومندی:

"رواجي سندرې: د ښاغلي محمد رضا مومندي د ليکلو ډرامو مجموعه ده.... ښاغلي ښنوا يې د "کوډې" پۀ نامه يوه ډرامګۍ غونډې (اوسني ليکوال، اول ټوک 496 مخ) خپره کړې ده چې بازاري او عاميانه توري پکښې زيات دي. زما پۀ خيال پۀ يوه ليکنه کښې ډېر بازاري توري راوړل هم ښۀ صفت نۀ دی. مثلاً دا جملې: بلقيس د ذرې ذرې خبرې سره لکۍ تړي يا بلقيس د مشر لکۍ ده يا دا ګنده بوټۍ چې ورسره شۀ نو پليد يې کړۀ (اوسني ليکوال، اول ټوک، 497 مخ) سپېځلي تعبيرونه نۀ دي بلکې ډېر بازاري او ناسپېځلي معلومېږي."(52)

زما تر پامه اول خو د رضا مومندي (مهمندي) د ډرامو کومه مجموعه پۀ دغه نامه چاپ شوې نۀ ده. نۀ ماچاپ شکل کښې ليدلې ده او نۀ د ډرامې پۀ فن، فکر او تنقيد کښې چرته محققينو تذکره کړې ده لکه ډاکټر محمد اعظم اعظم، افضل رضا او مصطفيٰ کمال وغېره او نۀ د "قند" مردان ډرامه نمبر کښې يې چرته ذکر شوی دی. زما د معلوماتو تر مخه د رضا مومندي صاحب يوه شعري مجموعه د "بړاس" پۀ نامه او بله د افسانو مجموعه د "يادونه انګارونه" پۀ نامه شوي دي خو د ډرامو مجموعه يې تر دې دمه نۀ ده چاپ البته ځينو مجلو کښې يې انفرادي طور ځينې ډرامې چاپ تر نظره کېږي. پاتې شوه پۀ يوه ډرامه کښې د بازاري ژبې د استعمال خبره نو دا د کردارونو پۀ ښۀ بد پورې اړانه لري. مونږ دې نه اګاهو هم پۀ دې مقاله کښې ذکر کړی دی چې کۀ کردار ښۀ

وي خو ښې خبرې به کوي او که بد وي نو هم دغه رنګ بدې خبرې به کوي لکه چې رښتين صاحب ورته ګوته نيولې ده. که مونږ دا منو چې ادب د ژوند انعکاس دی نو بيا زما په خيال دا څه دومره د تنقيد وړ خبره هم نه ده. د ريډيو ډرامو په پرمختګ کښې د رضا مومندي ډېره لويه برخه ده او هغه د ډرامې يو معتبر نوم دی چې پښتو ډراميي ادب ته يې ډېرې بخښنې کړې دي. افضل رضا صاحب د دوي د "دوه پنځوس" ډرامو نومونه ليکلي دي چې په ترتيب دا دي:

"امېل، زېتون، زغم، ګونګې، جهالت، تور دل او شهي [دا ډرامه ما سره هم د مسودې په شکل کښې موجوده ده] جوارګر، ککخېري، پښېمانه، خونړې، سودا، مېره مور، امانت، سکونډارې، وخاندو که وژاړو، قاتل څوک؟، شيرينې، صلاح الدين ايوبي، خونړې سودا [دا شايد يوه ډرامه وي چې وړاندې يې د دوو بېلو ډرامو "خونړې" او "سودا" په نامو ليکلي دي] شپونکی، سراج الدوله، توبې، اميد، اخري توبه، ابو دلامه، زرتاج، بهادر شاه ظفر، بازار، بې ګناه قاتل، د بېديا سيوري، راستون، زمکه، دا طوفان، د ټکي حال، د دوو ښځو خاوند، تشې منګُلې، د دروغو خوب (ترجمه)، نوې ښځه، بدل، په کور کښې امن، سوز و ساز، احساس، قرباني، تېښته، بلې ډيوې، بريف کېس، زوزاد، علاج، ګل وطن، بدخواه، وادهٔ، وصيت"(52).

افضل رضا يې "زرتاج" نومې ډرامې د خوېندو د پاره او د ماشومانو د پاره ليکلې ډرامې يې دا يادې کړې دي:

"ځان اساني باچا، حکمت بابا، هوښيار منصف، نيکي، علي بابا او څلوېښت غله، او بدرو د ښاپېرو وطن کښې"(54).

هم دغه رنګ يې په ترجمه کړو ډرامو کښې د شکسپئير د "اوتهېلو"، د شوکت تهانوي "د دروغو خوب" او هم د دغه ليکونکي "امير تيمور" نومې ډرامو ذکر هم کړی دی"(55).

ډاکټر محمد اعظم اعظم يې د ريډيو د دويم دور په ډرامه نګارو کښې د نورو ډرامه نګارو سره غوره ډرامه نګار ګڼې (وګورئ "پښتو ادب کښې کردارنګاري"، 422 مخ) ــ دوي يې د "مېره مور" او د دوو

ترجمه کړو ډرامو "اوتهېلو" او "امير تيمور" ذکر هم کړی دی. (هم دغه مأخذ، 423-424 مخونه)

محمد اشرف مفتون:

"حېدر: په دې نامه د ښاغلي محمد اشرف مفتون د ډرامو يوه مجموعه خپره شوې ده"(56).

افضل رضا يې خپل کتاب کښې د پينځو ډرامو "درخانو، ځوانيمرګ، ماما، رستم او رحمت" ذکر کړی دی"(57).

ښاغلي ډاکټر اعظم چې د رېډيايي چاپ کتابي ډرامو کوم فهرست ورکړی دی، په هغې کښې يې په مخ 419 د اشرف مفتون د "حېدر" ذکر کړی دی خو بيا چې "پښتو ډرامه او کردار نګاري (چاپ شوې کتابي ډرامې)" ليکلې دي نو په هغې کښې "حېدر" په کال 1958ء کښې (منظورِ عام پرېس، پېښور) چاپ شوی دی. د ډرامو مجموعه "حېدر" کښې شپږ ډرامې د "ماما"، "رسم"، "رحمت"، "ژوند"، "ادم خان (درخانۍ)" او "شها" په نامو چاپ دي. دې کښې زما تر فهمه "ماما" يو فيچر دی چې په يو مخ روان د ماما او د هغه د خوريي ظفر بحث دی اوپکښې د ظفر د دوست اکرم کردار هم ډېر د ثانوي حېثيت دی چې نۀ خو پکښې ننداريې شته او نۀ د نورو عملونو څۀ کړۀ وړۀ، ولې نورې پينځۀ واړه ډرامې د رېډيايي ډرامو ټولې فني تقاضې پوره کوي.

زېتون بانو:

"هنداره: دا کتاب زېتون بانو د افسانو مجموعه ده چې پېښور کښې خپره شوې ده"(58).

خو د چاپ ځای او کال يې نۀ دی ليکلی او نۀ يې دا ليکلي دي چې په "هنداره" کښې د افسانو سره دوه ډرامې "خړه لفافه" او "ګرم څوک دی؟" هم شاملې دي او پښتو رېډيايي ډرامو کښې د زېتون بانو خپله برخه ده هم د ډرامه نګارۍ په حواله او هم د صداکارۍ په حواله. د افسانو اوډرامو دغه مجموعه په 1958ء (د ادارۀ اشاعت سرحد، پېښور) کښې چاپ شوې ده.

افضل رضا یې خپل کتاب کښې د شپږو ډرامو تذکره کړې ده چې نومونه یې دا دي:

"نیزه وړی [پهٔ دې نامه اوس د زیتون بانو افسانوي مجموعه هم د یونیورستي پبلشرز پېښور نه چاپ شوې ده] ، خواخُوږی، پاسه، علاج، سمسور ګلونه او معمار"(59)

دغه رنګ یې هم دغه کتاب "ډرامه" کښې پهٔ مخ 99 د ټي.وي ډرامې پهٔ حواله د زیتون بانو د ځینو نورو ډرامو:

"لمن، دوه سترګې، د بن سیوری، پُرزه، زهٔ لېونی نهٔ یم، نیزه وړی، دوېم مخ، خورزه، زنځیر، ټیکه، د خاورو ځلی."

## نتیجه:

دا خبره سمه ده چې محترم رښتین صاحب "د پښتو نثر هنداره" لیکلې نو چې کوم نثري زاړهٔ او نوي اثار د هغوي پهٔ مطالعه کښې راغلي وو، د هغې تذکره او پرې خپله تحقیقي او تنقیدي تبصره یې کړې ده. هغه کهٔ دیني اومذهبي کتابونه دي کهٔ علمي، ادبي او افسانوي یا روماني ناولونه او داستانونه دي یا کهٔ کوم لیکونکي باقاعده نثرنګاران نهٔ دي او محض یې د خلې خوند بدلولو پهٔ خاطر ځینې مقالې یا مضامین لیکلي دي یا یې د ادبي، علمي، تحقیقي اوتنقیدي مجلو صحافتي ذمه وارۍ تر سره کولو کښې فقط پهٔ اداریه نویسۍ اکتفا کړې ده یا یې د مجلو ضخیم نمبرونه مرتب کړي دي یا یې هسې پهٔ نثر کښې چرته څهٔ رساله لیکلې ده نو رښتین صاحب تر خپله وسه هڅه کړې ده چې هغه د خپل علمي صلاحیت او استعداد او ادبي جوهر پهٔ ذریعه ولټوي، رسایي ورته وکړي، تر لاسه یې کړي، وې لولي او د خپل مطلب ټکي ترې راغونډ کړي او پرې خپله تنقیدي تبصره د لیکونکي د تذکرې سره وکړي.

بیخي هم دغه رنګ د رښتین صاحب دا خیال به هېڅکله هم نهٔ وهٔ چې زهٔ دې پښتو ادب کښې د ډرامه نګارۍ او ډرامه نګارو او د هغوي د ډرامو یو تاریخ مرتب کړم ځکه نو تاسو ولیدل چې د پښتو ډرامې او

ډرامه نګارو دغه خور وور بحث "د پښتو نثر هنداره" کښې لکه د تاش د پاڼو لړلی شوی دی او د هر هغه نثر لیکونکي چې ډرامه نیمه یې لیکلې ده، د هغې ذکر یې کړی دی خو ډېر ډونګو ته نه دی کوز شوی حالانکې د کتاب د لیکلو 1962ء کال نه د کتاب د چاپ تر کاله 1993ء هغوي سره کافي وخت وۀ چې په خپل دغه ویاړمن او د قدر وړ اثر باندې یې یو نظر اچولی وی او چې کوم صنف کښې یا د کوم لیکونکي په لیکونو کښې ورته څۀ تنده محسوس شوې وه نو پکار وه چې د خپل مشاق قلم، وسیع مطالعې، مدلل تجزیې او عمیق مشاهدې لۀ رویه یې دغه کمۍ او کوتاهۍ څۀ خو لرې کړې وې.

زما د دې مقالې مقصد هم دغه دی چې د ګران رښتین صاحب "د پښتو نثر هنداره" کښې دغه خور وور بحث یو ځای ته راغونډ شي او د ګرانو لوستونکیو د پاره یې لکه د ناویاته مرغلرو په وریښمین مزي کښې وپئیم. د ګران او عالم فاضل صدیق الله خان رښتین صاحب روح دې په علیون کښې ښاد او اباد اوسي. هیله لرم چې قدرمن پښتانۀ لوستونکي به زما دې وړې شان منصوبې ته په درنه سترګه وګوري. په دې هیله کۀ په راتلونکي وخت کښې څوک څېرک محقق د ډرامې په حقله څۀ کار او زیار کوي نو چې ټول مواد ورته یو ځای په لاس ورشي او منابعو او مصادرو ته حصول کښې یې اساني پیدا شي.

***

# حوالې

(1) ربښتين، صديق الله، د پښتو نثر هنداره، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور، (س ن) مخ328.
(2) خليل، همېش، پښتانۀ ليکوال، يونيورسټي پبلشرز پېښور، درېم چاپ جولائي 2010ء، مخ14.
(3) ربښتين، صديق الله، د پښتو نثر هنداره، مخ334.
(4) رضا، افضل، ډرامه، تاريخ، تنقيد او فن، يونيورسټي بک ايجنسي پېښور، درېم چاپ، 1995ء، مخ88.
(5) ايضاً، مخ91.
(6) ايضاً، مخ69.
(7) حمزه بابا سره يو ملاقات، جنوري، 1988ء، پېښور.
(8) کمال، مصطفٰی، پښتو ډرامه يوه مطالعه، ملت ايجوکېشنل سروسز چارسده، 2014، مخ51.
(9) خليل، همېش، پښتانۀ ليکوال، مخونه 563 تا 565.
(10) رضا، افضل، ډرامه، تاريخ، تنقيد او فن، مخ81.
(11) کمال، مصطفٰی، پښتو ډرامه يوه مطالعه، مخونه 54 تا 55.
(12) خليل، همېش، پښتانۀ ليکوال، مخ566.
(13) ربښتين، صديق الله، د پښتو نثر هنداره، مخ352.
(14) رضا، افضل، ډرامه، تاريخ، تنقيد او فن، مخونه، 76 تا 93.
(15) ربښتين، صديق الله، د پښتو نثر هنداره، مخ381.
(16) رضا، افضل، ډرامه، تاريخ، تنقيد او فن، مخ82.
(17) ربښتين، صديق الله، د پښتو نثر هنداره، مخ390.
(18) کمال، مصطفٰی، پښتو ډرامه يوه مطالعه، مخ80، 81.
(19) خليل، همېش، پښتانۀ ليکوال، اول ټوک، درېم چاپ، مخونه، 554 تا 560.
(20) رضا، افضل، ډرامه، تاريخ، تنقيد او فن، مخ50.

(21) مظلوم، عبدالکریم، زما پلار او پښتو ډرامه، مشموله قند، ډرامه نمبر پریمئیر شوګر ملز مردان، جولائي 1960ء، مخ229.
(22) اعظم، محمد اعظم، ډاکټر، پښتو ادب کښې کردارنګاري، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، 1993ء، مخ412، 413.
(23) رښتین، صدیق الله، د پښتو نثر هنداره، مخ326.
(24) ایضاً، مخ431.
(25) ایضاً، مخ433.
(26) خلیل، همېش، پښتانۀ لیکوال، مخ149، 150.
(27) ایضاً، مخ551.
(28) رضا، افضل، ډرامه، تاریخ، تنقید او فن، مخ132.
(29) ایضاً، مخ78.
(30) ایضاً، مخ89.
(31) رښتین، صدیق الله، د پښتو نثر هنداره، مخ524، 525.
(32) ګنده پور، محمد جان، تاثرات "درسِ عبرت د عبد الله جان اسیر ډرامه، دوېم چاپ (س ن) مخ ك.
(33) ) کمال، مصطفٰی، پښتو ډرامه یوه مطالعه، مخ46.
(34) اسیر، عبدالله جان، درس عبرت، دوېم اشاعت، د ل نه پس د م مخ نه اول د صفحې نمبر او حرف نۀ لري.
(35) اعظم، محمد اعظم، ډاکټر، پښتو ادب کښې کردارنګاري، مخ114.
(36) رښتین، صدیق الله، د پښتو نثر هنداره، مخ526.
(37) اعظم، محمد اعظم، ډاکټر، پښتو ادب کښې کردارنګاري، مخ413، حاشیه (1).
(38) رښتین، صدیق الله، د پښتو نثر هنداره، مخ526.
(39) ایضاً، مخ527، 528.
(40) ایضاً، مخ539، 541.
(41) اعظم، محمد اعظم، ډاکټر، پښتو ادب کښې کردارنګاري، مخ423.

(42) کمال، مصطفٰی، پښتو ډرامه يوه مطالعه، مخ55، 56.
(43) وهمي، محمد لطيف، د سرو تعويذ، مشموله "لار" تنقيد نمبر 8-9 اګست، ستمبر 1998ء، مخ106.
(44) رښتين، صديق الله، د پښتو نثر هنداره، مخ564.
(45) رضا، افضل، ډرامه، تاريخ، تنقيد او فن، مخ77.
(46) رښتين، صديق الله، د پښتو نثر هنداره، مخ566.
(47) اعظم، محمد اعظم، ډاکټر، پښتو ادب کښې کردارنګاري، مخ415، 416.
(48) ايضاً، مخ417.
(49) رضا، افضل، ډرامه، تاريخ، تنقيد او فن، مخ63.
(50) رښتين، صديق الله، د پښتو نثر هنداره، مخ573.
(51) ايضاً، مخ574.
(52) ايضاً، مخ576.
(53) رضا، افضل، ډرامه، تاريخ، تنقيد او فن، مخ79.
(54) ايضاً، مخ90.
(55) ايضاً، مخ92.
(56) رښتين، صديق الله، د پښتو نثر هنداره، مخ583.
(57) رضا، افضل، ډرامه، تاريخ، تنقيد او فن، مخ61 او 77.
(58) رښتين، صديق الله، د پښتو نثر هېداره، مخ598.
(59) رضا، افضل، ډرامه، تاريخ، تنقيد او فن، مخ59.